دافغانستان اسلامـي جمهوری دولت

د ټـاکنــوخپلـــواک کميسيـــون

دولت جمهوری اسلامی افغانستان

کميسيون مســـــــتقل انتخابات

# Islamic Republic of Afghanistan

# Independent Election Commission

## د رسنيوکميسيون د جوړولو لايحه

**مبنی:**

دا لايحه د ټاکنو قانون د (۷۹) مادې پر بنسټ د ټاکنو خپلواک کميسيون له لوري(له دې وروسته کميسيون) تصويب شو.

**موخه:**

دا لايحه د ټاکنو قانون ( ۶۱) مادې احکامو ته په پام د ۱۳۹۳ کال په ولسمشري او ولايتي شوراګانو ټاکنو کې د رسنيو کميسيون د جوړولو، دندواو واکونو د څرنګوالي اړوند چارې تنظيموي.

**د رسنيوکميسيون جوړول او د هغه ترکيب**

**لومړی ماده :**

(۱) کميسيون لړ ترلږه د ټاکنو له ترسره کېدو( ۹۰) ورځې دمخه د راپور ورکولو، منصفانه او ناپېيلو ټاکنيزو سياليو د څارنې او رسنيزو سرغړونو ته د رسېدو په موخه د وينا ازادي او معلوماتو ته د لاسرسي دمنل شويو نړيوالو اصولو په رنا کې او همدارنګه هغو نړيوالو مدني او سياسي ميثاقونو ته په پام چې افغانستان لاس ليک کړي او ورته ژمن دی د رسنيو کميسيون جوړوي.

(۲) د رسنيو کميسيون پنځه غړي لري (لږ ترلږه يوه ښځينه غړې) چې کميسيون يې د مطبوعاتو له نخبه ګانو څخه د مسلکيتوب د اصل له مخې يو جلا طرزالعمل ته په پام ټاکي.

(۳)د رسنيو د کميسيون غړي بايد دغه شرايط ولري:

۱: د افغانستان تابعيت ولري.

۲: د ژورناليزم، حقوقو او ادبياتو په برخه کې يې لوړې زده کړې کړې وي.

۳: په مطبوعاتو او فرهنګي چارو کې لږ ترلږه پنځه کاله کاري تجربه ولري.

۴: علمي اثار او مقالې ولري.

۵: له رسمي دندې څخه موقت انفصال.

۶: له سياسي ګوندونو سره نه تړون (د دندې د ترسره کولو په وخت کې)

۷: خپل ناپېيلتوب خوندي کړي، ډله ييز، قومي، ژبني، توکميز، مذهبي او سمتي تمايلات او تعصب ونه لري.

۸: د محکمې په حکم له مدني او سياسي حقونو څخه نه وي محروم شوی.

۹: د هېواد په يوه رسمي ژبه بشپړ تسلط.

۱۰: ملي ارزښتونو ته ژمن وي، د اساسي قانون، د ټاکنو قانون، د رسنيو قانون او د هېواد ټولو نافذه قوانينو او د کميسيون د مصوبو پيروي وکړي.

۱۱: د ژورناليزم اخلاقي اصول مراعت کړي او هغو ته درناوی ولري.

(۴) د رسنيو کميسيون مشر د غړو له منځ څخه د کميسيون په لومړۍ غونډه کې انتخابېږي. که غړي د ريس د انتخاب په هکله توافق ته ونه رسېدل، نو کميسيون يې ټاکي.

(۵)د رسنيو کميسيون خپل داخلي طرزالعمل د کميسيون په تايد برابروي.

(۶)د رسنيو کميسيون د چارو د ښه ترسره کولو په موخه، اجرايوي کارکوونکي د ټاکنيزو موقتو کارکوونکو د استخدام لايحې ته په پام د کميسيون د دارالانشا له لارې استخدامېږي.

(۷) کمیسیون د رسنیو کمیسیون اړوند ټولې چارې څارې.
(۸)د رسنیو کمیسیون ټولې چارې دارالانشا تنظیموي.

**د رسنیو کمیسیون دندې او مکلفیتونه**

**دویمه ماده:**

(۱)د رسنیو کمیسیون دغه لاندې دندې لري:

الف: د کمیسیون په تاید خپلواکو واکونو له مخې د داخلي طرزالعملونو، لاربښودونو، تفاهم لیکونو، یادښتونو او ټولو حقوقي اسنادو.

ب: د کمیسیون لایحو او طرزالعملونو ته په پام د رسنیو له لارې د نوماندانو د ټاکنیزو سیالیو د څېړولو څارنه .

ج: د رسنیزو سرغړونو په هکله د ترلاسه شویو شکایتونو څېړنه.

د: د اصلاح، اخطار ورکولو او جریمې وضع کولو امر.

ه: د کمیسیون له تاید وروسته پر وخت د عدلي تعقیب په موخه اړوندو مراجعو ته د مختلفو(حقیقي او حکمي) اشخاصو معرفي.

و: د ټاکنو او ټاکنیزو کمیسیونونو په هکله د رسنیو د ناسمو معلوماتو د خپرولو پرمهال د قانوني تدابیرو نیول.

ز: د حکومت د رسنیو له کمیسیون سره مرسته.

ح: کمیسیون ته د راپور برابرول.

ط: ټولې هغه دندې او مسوولیتونه چې د کمیسیون له لوري ټاکل کیږي.

(۲)د کاري او مدیریتي پلانونو تصویب.
(۳)د رسنیزو سرغړونو په هکله شوي شکایتونه او موضوعات د رسنیو د کمیسیون په غونډ و کې څېړل کیږي.
(۴)کمیسیون ته له مستندو اسنادو سره د یوې رسنۍ د باورلیک د له منځه وړلووړاندیز برابرول.
(۵)د رسنیو کمیسیون سره د مرسته کوونکو بنسټونو د پروګرامونو او فعالیتونو څارنه

**د رسنیوکمیسیون د ریس دندې**

**دریمه ماده:**

(۱)د رسنیوکمیسیون د غونډو ریاست.
(۲)د رسنیو کمیسیون د فعالیتونومدیریت.
(۳)په اړوندو کورنیو او بهرنیو ادارو کې د رسنیو کمیسیون استازولي.
(۴)د رسنیو کمیسیون د کارکوونکو د فعالیتونو څارنه او څېړنه.
(۵)د رسنیو په رسمي ویناوو او مطبوعاتي کنفرانسونو کې حضور.
(۶)ټولو بنسټونو ته د رسنیو کمیسیون اړوند رسمي مکتوبونو لاسلیک کول.
(۷)کمیسیون ته د راپور برابرول

**د رسنیو کمیسیون ته شکایت**

**څلورمه ماده:**

۱: د رایو ورکوونکو د شرایطو لرونکي ، نوماندان، څارونکي، سیاسي ګوندونه، ټولنیز سازمانونه او ټول اشخاص د رسنیزو سرغړونو د لیدلو پرمهال د رسنیو کمیسیون او یا کمیسیون ته په لیکلي ډول شکایت وکړي.

۲: د رسنیو د کمیسیون رسنیزو سرغړونو ته د رسېدلو ډول په جلا طرزالعمل کې برابروي.

**د رسنیو کمیسیون د کاري دورې پای**

**پنځمه ماده**

۱: د رسنیو کمیسیون د کار موده د ټاکنو د وروستیو پایلو له اعلان څخه وروسته حداکثر تر ۴۵ ورځو پورې دوام کوي او ټولې چارې يې کمیسیون ته سپارل کېږي.

**<u>راپور</u>**

**شپږمه ماده:**

د رسنیو کمیسیون د خپلې کاري دورې له پایته رسېدو وروسته ، د خپلو فعالیتونو وروستی راپور کمیسیون ته برابروي.

**<u>انفاذ:</u>**

**پنځمه ماده:**

دا لایحه له تصویب وروسته نافذه او خپرېږي او ورته پخوانۍ لایحې لغوه ګڼل کېږي.